# دسرك دموقعيت لپاره انجنيري سـروې

## *Engineering Survey for Highway Location*



مخكې له دې چې دسرك دمسير تعين پاي ته ورسيږي بايد دسرك په پروژه كې انجنيري سروې تر سره شي.

انجنيري سروې څلور مرحلې لري چې په لاندې ډول خلاصه كيږي.

1. دنقشې مطالعه — Map Study
2. تخنيكي يا دتفتيش سروې — Technical Survey
3. مقدماتي سروې — Preliminary Survey
4. نهايي موقعيت اوتفصيلي سروې — Final Location & Detail Survey

دتوپوگرافي نقشې دمطالعې څخه كولاي شو چې دموردنظرسرك موقعيت تعين اوتر مطالعې لاندې يې ونيسو.

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

تخنيکي سروې دسروې ديو مشخص گروپ پواسطه په تعين شوي مسيرکې اجرا کيږي دنوموړې سروې لپاره ځيني آلات لکه ليول، تيودوليت، ترانزيت ، GPS , Total Station او داسې نور په کاروړل کيږي اوکله کله نوموړې سروې دعصري او پرمخ تللي وسايلو په لرلو سره دهوا دلارې دمخصوصو اومجهزوالوتکو پواسطه اجراکيږي.

په مقدماتي سروې کې په ساحه کې دمرکزي خط تثبيت، دتريورس دساحې توپوگرافيکي خواص، لول کاري، هايدرولوژيکي معلومات او خاورې پيژندنې سروې شامل دي.

په تفصيلي سروې کې په ساحه کې د موقت Bench Mark تعينول د 300m په انتروال کې او نظر داراضي شکل ته دساحې ليول کاري ده چې دزيات اهميت لرونکې ده.

## دسـرك دمسـير سروې

## *Highway Alignment Survey*

دسرك دمرکزي خط (Center Line) تثبيت کول دپلان له مخې دځمکې پرمخ عبارت دمسير څخه دي

دسرك مسير دسرك دافقي پلان څخه عبارت دي چې په هغه کې دسرك مستقيمه برخه Straight Path اوافقي برخه Horizontal Curves شامل دي.

دسرك مسير بايد لنډ (Short) ، ساده (Easy) ، مطمئن (Safe) اواقتصادي (Economical) وي او همدارنگه بايد کوشش وشي چې کم ساختمانونه پکې موجودوي علاوه له دې بايد کوښښ وشي چې دسرك مسير دداسې ځايونو څخه تيرشي چې دزيات نه زيات اولسونو اړيکې سره ټينگې کړي.

دسرك په مسيرکې هغه نقطه چې مرکزي خط خپل مسير ته تغيرورکوې يعنې يوه زاويه تشکيل کيږي د PI يا Intersection Point په نوم ياديږي چې نوموړې زاويه تشکيل او دتيودوليت پواسطه قرائت کيږي. هر PI بايد نمبرگذاري اوددوي ترمنځ فاصله پيداشي.

ketabton.com - The Digital Library

# د سرك طولي (پروفيل) او عرضي سروې

## *Long Profile & Cross Section Survey*

د سرك طولي پروفيل دبحرد سطحې څخه د مركزي خط دنقاطو دارتفاعاتو څخه عبارت دي چې دنو موړو نقاطو ارتفاعات په معينو فاصلو (25-100m) اخيستل كيږي.

د سرك عرضي پروفيل (Cross Section) هم دبحر د سطحې څخه دنقاطو دارتفاعاتو څخه عبارت دي اما په دې كې علاوه د مركزي خط دنقاطو دارتفاعاتو څخه د مركزي خط دواړو خواوته دځينو نقاطو ارتفاعات د (3-6m) په فاصلې اويا له دې څخه زيات اخيستل كيږي ترڅو د سرك وضعيت معلوم شي او دهمدې عرضي مقطع له مخې د سرك لپاره هموار سطح تعين كيږي (مناسب ډيزاين نظر مقطع ته اجرا كيږي) او هم دځمكنيو كارونو Earth work يا كندنكاري او پركاري Cutting & Filling احجام لاسته راځي.

په عرضي مقطع كې بايد د سرك دواړو خواوته دآبرو يا Side Drainage پخاطر نقاط واخيستل شي ترڅو د سرك دډيزاين پروخت په نظر كې ونيول شي.

عرضي مقطع نظر داراضي شكل ته او د سرك اهميت ته بعد د (25-50-100m) څخه په نظر كې نيول كيږي او دنقاطو ارتفاعات اخيستل كيږي.

# ترافيكي سروې

## *Traffic Counting Survey*



ketabton.com - The Digital Library

ترافیکي سروې یا ترافیکي حجم عبارت دي د عراده جاتو د تعداد څخه چې د سرك د یوې مشخصې برخې څخه په یو واحد وخت کې تیریږي.

د ترافیکي حجم د پیدا کولو لپاره د وخت واحد معمولاً Vehicle/day یا Vehicle/hour دي یعنې ترافیکي حجم په 24 ساعتونو یعني یوه شپه او ورځ او یا یو ساعت کې اندازه کیږي.

په ترافیکي سروې کې د هر نوع عراده جاتو تعداد په مختلفو وختونو لکه هفته ، میاشت ، فصل او کال کې مطالعه کیږي او هفته وار ، میاشتینی ، فصلي او کلني ارقام یې جمع آوري او تر مطالعې لاندې نیول کیږي. همدارنګه ترافیکي سروې د هر پنځه کلونو څخه وروسته هم باید اجرا شي.

ترافیکي سروې دلاندې هدفونو لپاره اجراکیږي:

1. د سرکونو ارتباط ورکول — Wider Network
2. د سرکونو د هندسي اجزاؤ د دیزاین لپاره — For Road Design
3. د سرك د پخې شوې برخې د دیزاین لپاره — For Pavement Design
4. د لینونو د تعداد د تعین لپاره — For Determining Lines Amount
5. د چوکونو د دیزاین لپاره
6. د سرك د ساختمانونو د دیزاین لپاره — For Structure Design

د ترافیکي سروې څخه هدف د سرك د دیزاین لپاره د عمده ارقامو راټولول دي چې باید ترسره شي

زما د نظروړ سرك د ترافیکي سروې ارقام له بده مرغه زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې او په خاص ډول زما د سرك په نظروړ ساحه کې د جنګونو او بدامنیو له امله په لاس کې نلرم ولې د دې سره سره څرنګه چې په افغانستان کې هیڅ سرك د 450 عراده جاتو څخه کم اندازې ته نه ډیزاین کیږي بناءً په تخمیني ډول زه د نوموړي سرك لپاره د ترافیکي سروې رقم 500 Vehicle/day په نظر کې نیسم.

ketabton.com - The Digital Library

# زمادنظرور سرك په باره كې عمومي معلومات

## *General Information about my Purposed Road*

لكه څرنګه چې مخكې هم يادونه شويده دننګرهارپوهنتون دانجنيري پوهنځۍ دسيول څانګې لخوا په نوموړې څانګه كې ماته دډيپلوم ددفاع په منظور دهلمند په ولايت كې دلشكرګاه- نادعلي ترمنځ د 6km سرك دطرحې اوديزاين پروژه راسپارل شويده.

هلمند دافغانستان دسويل لويديځ ولايتونودجملې څخه دي چې دخاورې مساحت يې $58584km^2$ او د 13 ولسواليو لرونكي دي، د 2005 كال دسرشميرنې له مخې يې دوګړوشمير د 745000 په شااوخوا كې اټكل شوي دي، دغه ولايت د $N=31.00°$ او $E=64.00°$ كوردينا‌توكې موقعيت لري اودبحردسطحې څخه يې ارتفاع په اوسط ډول 800m ته رسيږي.

هلمنددافغانستان دګرموولايتونودجملې څخه دي چې اوړي يې ګرم اوژمي يې نسبتاً سوړ دي دحرارت درجه يې په اوسط ډول.... ته رسيږي اودباران كلنۍ اندازه يې په اوسط ډول 67.7mm تثبيت شويده.

دغه ولايت دهلمند دسيند پواسطه په دوه برخو يعني شمالي اوجنوبي هلمند ويشل شوي دي چې دجنوبي هلمند زياتې برخې دهمدغه سيند پواسطه خړوبيږي، دشمالي هلمند داوبومنابع اكثراًكاريزونه اوچينې دي اويوه كمه اندازه ځمكه يې دهلمند دسيند پواسطه خړوبيږي.

زمونږدموردنظرپروژې سرك دلشكرګاه دعمومي سرك څخه چې دغرب په لورغزيدلي دي جداشوي دي او دنادعلي ترولسوالي پورې دشمال په استقامت قرارلري ، نوموړې سرك دوهمه درجه يا دولسوالۍ سرك دی چې مؤثرعرض يې 7m او دشانوعرض يې 1m دي چې په مجموعي ډول 9m كيږي، دسرك دواړوغاړوته دسرك داوبو دايستلو اوهمدارنګه دتخريب څخه د Carriage Way دمخنيوي په منظورويالې يا Drainage په نظركې نيول شويدي په ځينو قسمتونو كې دسرك په څنګ كې لويې ويالې هم ترسترګو كيږي چې دشااوخوا ځمكو د اوبوايستلو يا زهكشي او همدارنګه داصلي سيندڅخه دنوموړوځمكودخړوبولو لپاره په نظركې نيول شويدي.

دسرك طبقات دډيزاين له مخې په لاندې ډول طرح شويدي:

ketabton.com - The Digital Library

| | |
|---|---|
| 50mm | Asphalt Wearing Course |
| | Prime Coat |
| 100mm | Aggregate Base Course |
| 200mm | Aggregate Sub Base Course |
| | Fill with Granular Material |

ځرنګه چې ساحه ډيره هموار ه ده بناءً سرك په ډيره كمه اندازه تفاوت دارتفاع لري او
همدارنګه داباعث شوي دي چې دسرك مسيرترزياته حده مستقيم اوبيدون دګولايي څخه وي.

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*